عبدالباری جهانی ۲۰۱۹/۱۲/۲۰

# د انګریزي استعمار او روسي امپراطورۍ په مقابل کې د امیر شیرعلي خان او سید جمال الدین افغاني دریځونه

## دوهمه برخه

د ۱۸۷۵ کال د جنوري پر دوهمه د هند دپاره د برتانیې د دولت وزیر لارډ سالیزبوري صدراعظم ډیزراییلي ته پیشنهاد وکړ چې د افغانستان څخه د سمو اطلاعاتو د نه رسېدلو له امله ستونزې لري او چې په سیمه کې څه پېښېږي نو یوازې په کابل کې د یوه مسلمان نماینده له لارې اطلاعات ترلاسه کوي؛ او هغه هم هغه څه لیکي چې امیر ورته وایي. لارډ سالیزبوري په دې عقیده وو چې په افغانستان کې باید حتما انګریزي هیات موجود وي. Sykes ص ۱۰۱

سالیزبوري په دې عقیده وو چې روسان بالاخره د افغانستان د نیولو او پر هند باندې د یرغل کولو خیال لري او برتانیه باید د هغوی ټولو حرکتونو ته متوجه او پیش بینه وي. خو وایسرا نارت بروک په دې باب هر ډول اطلاعات راغونډ کړي ول او د خپلو ټولو مهمو سلاکارانو او افسرانو سره ئې تر سلامشورو وروسته یې د ۱۸۷۵ کال د جون پر اوومه د برتانیې حکومت ته یو لیک واستاوه او په هغه کې یې د خپلو ټولو اطلاعاتو نتیجه ولیکله. نارت بروک ولیکل چې دا په هیڅ توګه هوښیاره پالیسي نه ده چې پر امیر باندې انګرېزي هیات تحمیل کړو. نارت بروک او د هغه مشورتي هیات دا خبره رد کړه چې د امیر له خوا د انګرېزي هیات نه منل دې د هغه د وفادارۍ نه درلودلو دلیل وګڼل سي. دوی ورته ولیکل چې سرریچارډ پالک، چې هم له سیدنورمحمد شاه سره ډېر نیژدې وو او هم د امیر او هم د افغانستان په باب بشپړ معلومات لري وایي چې داسې هیڅ شواهد نسته چې امیر شیرعلي خان دې د اروپایي حکومتونو څخه د مرستو ترلاسه کولو تلاښ کړی وي. دوی زیاته کړه چې که څه هم چې امیر په کال ۱۸۷۳ کې هغه څه چې غوښتل یې ترلاسه نه کړل خو مخالفت یې نه دی ښودلی او د سیستان په مسله کې یې د برتانیې د حکمیت نتیجه له ټول نارضاییت سره قبوله کړه. دوی وویل چې لارډ مایو د امبالې په کنفرانس کې امیرشیرعلي ته اطمینان ورکړی وو چې په افغانستان کې به انګرېزي استازي نه مقرروي؛ او که موږ اوس پر هغه باندې په دې مسله کې فشار واچوو هغه به مو په وچ زور د روسانو لمنې ته غورځولی وي. دوی ولیکل چې په هرات کې د برتانیې د استازي مقررول دلیل او منطق لري او که چیرې روسانو مرو اشغال کړه او د ترکمنانو ټوله سیمه یې ونیوله نو بیا به امیر ته اطمینان ورکړي چې د هغه د هیواد د ساتنې لپاره

هر راز مرستي ورسره کوي؛ خو په دې برخه کي هم بايد يو نوی تړون لاسليک سي. دوی دا هم وليکل چي د افغانستان په برخه کي بايد د صبر او زغم څخه کار واخيستل سي؛ ډيره نرمه پاليسي دي غوره سي او د امير د ستونزو د حلولو لپاره دي پوره مالي مرستي ورسره وسي. Duke of Argyll ص ۳۸۱-۳۸۲

د برتانيي حکومت لارډ نارت بروک ته وليکل چي هغه بايد له امير سره په دوستانه لهجه خبري وکړي، خو پر امير باندي به فشار اچوي چي که د هغه اقدام مخه ونيسي چي د برتانيي حکومت يې د ده د خپلواکی لپاره لازم بولي نو د خرابو عواقبو مسول به وي... لارډ نارت بروک په دې عقيده وو چي له امير سره بايد غولونکي خبري ونه سي او حقيقت ورته وويل سي. دوی ويل چي که چيري امير د برتانيي غوښتني مني نو په عوض کي بايد داسي امتيازات ورکړل سي چي هغه هم په دې پوه او قانع سي چي د برتانيي د ګټو د ساتلو په مقابل کي يې يو څه ترلاسه کړي هم دي. د برتانيي حکومت فکر کاوه چي وايسرا بايد امير ته ووايي چي د مرکزي اسيا روانو حالاتو دا لازمه کړې ده چي د برتانيي او د افغانستان د حکومتونو ترمنځ اړيکي تر اوسني حال زياتره ټينګ او مستحکم سي... د ۱۸۷۶ کال د جنوري پر اته ويشتمه د برتانيي حکومت لارډ نارت بروک ته وليکل چي د اميرشېرعلي خان سره داسي مذاکرات وکړي چي هغه وغولوي؛ خو نارت بروک وويل چي که موږ د کابل سره خبري کوو نو بايد چي هر څه روښانه او سپين وي او د کابل حکومت زموږ د ماموريت په هدف سم پوه سي. لارډ نارت بروک يو ځل بيا وليکل چي موږ بايد په کال ۱۸۶۹ کي د کابل د امير او لارډ مايو ترمنځ د امبالي موافقتنامه په نظر کي ونيسو. ده دغه راز وويل چي په دې باب هيڅ ډول اطلاع نه لري چي روسيه دي په افغانستان کي د مداخلي خيال ولري. ده دې خبري ته اشاره کړې وه چي امير د ۱۸۷۵ کال تر سپټامبر پوري ټول کارونه د برتانيي د حکومت د غوښتنو سره سم کړي دي او حتی خپل خلک يې د روسيي په مقابل کي د خوقند د اولسونو د قيام سره د خواخوږی ښودلو څخه منع کړي ديDuke ص ۳۹۰-۳۹۱

وايسرا نارت بروک پرامير باندي فشار اچول نامناسب او د برتانيي د امپراطوری د ګټو خلاف وبلل. خو ساليزبوري پر خپلي خبري ټينګ ولاړ وو او نارت بروک په جواب کي ورته وويل چي که له امير څخه وغوښتل سي چي په هرات کي د انګريزانو دفتر ته اجازه ورکړي نو هغه به سمسدتي دا سوال وکړي چي برتانيه بايد پر افغانستان باندي د خارجي يرغل په صورت کي د بې قيد او شرطه مرستي ژمنه وکړي. نارت بروک وويل حتی که په افغانستان کي برتانوي هيات ته اجازه ورکړه سي هغه به د امير د جاسوسانو له خوا داسي محاصره وي چي له هيچا سره به تماس نه سي ټينګولای. کله چي ساليزبوري پر خپله خبره باندي نور هم ټينګار وکړ نو نارت بروک استعفی وکړه او ساليزبوري ته يې وليکل: زه يقين لرم چي که دا ابتکار وکړې نو خپل ځان به په لوی لاس کمزوری کړې او په راتلونکي کي به د سختو سياسي او اقتصادي ستونزو سره مخامخ سې. Sykes ص ص ۱۰۱-۱۰۲

د لارډنارت بروک پر ځای باندي لارډ ليټن، چي د افغانستان په برخه کي د ساليزبوري د توندروي پاليسی طرفدار وو، وټاکل سو. مخکي له هغه چي لارډ ليټن د هند پر لور حرکت وکړي، په برتانيه کي د رسيي سفير کنټ شووالوف هغه ته د يوه غير رسمي ملاقات او ساده ليدني کتني بلنه ورکړه. کنټ شووالوف په دغه ملاقات کي لارډ ليټن ته په روسي ترکستان کي د روسيي د ګورنرجنرال وان کوفمان يو ليک، چي په روسي ليکل سوی وو، په فرانسوي ترجمه کړ، چي د مرکزي اسيا په برخه کي د روسيي د امپراطوری نيتونه پکښي بيان سوي

ول. په لیک کي راغلي وه، په داسي حال کي چي روسيي په مرکزي اسيا کي هيڅ داسي کار نه دی کړی چي د برتانيي ګټو ته کوم خطر پيښ کړي خو د برتانوي هند حکومت په مرکزي اسيا کي د روسيي د حکومت پر ضد مسلمانان لمسوي او يعقوب بيګ ته وسلې او مهمات لېږي. جنرال کوفمان وروسته ليکلي وه چي روسيه او برتانيه په مرکزي اسيا کي مشترکي ګټي او مشترک دښمن لري. هغه ليکلي وه چي" زموږ علاقه له تمدن سره ده او تمدن مو په ګټه دی او دښمن مو اسلام دی. يوازيني ريښتوني دښمن چي په هند کي د انګريزانو ګټي تهديدوي هغه اسلام دی او نوري ستونزي هسي خيالي بلاوي دي؛ خو اسلام به تر ابده پوري د يوه غښتلي ريښتوني دښمن په حيث پاته وي. نو هوښياره پاليسي به د اينګليند او روسيي ترمنځ اتحاد وي. د برتانوي هند حکومت بايد له روسيي سره د افغانستان او مرکزي اسيا د مسلمانانو د بې وسلو کولو او د دواړو قدرتونو ترمنځ د دغو سيمو د وېشلو په لاره کي مرسته وکړي. که دغه پاليسي غوره سي نو موږ به د مسلمانانو د بغاوتونو د ځپلو لپاره هر وخت يوه متحده مسيحي امپراطوري لرو. له بده مرغه چي برتانيي د دغه راز يوې ګټوري پاليسی د غوره کولو پر ځای د روسيي په قلمرو کي د مخالفو مسلمانانو د ملاتړ پاليسي غوره کړې او د روسيي د يرغل وېره يې په زړونو کي اچولې ده. که د کلکتي او تاشکند ترمنځ مستقيم تماس موجود وي نو دغه راز غلط فهمی به نه پيښيږي"

لارد ليټن د سفير شووالوف د خبرو او جنرال کوفمان د ليک په جواب کي وويل " لکه څرنګه چي تا د سپينو خبرو غوښتنه وکړه نو زه به هم په زغرده درته ووايم چي برتانيه به په هيڅ صورت په افغانستان او خپلو سرحدي سيمو کي د جنرال کوفمان نفوذ ونه مني؛ او نه به د مسلمانانو په مقابل کي د صليبي جګړې ملاتړ وکړي. ده زياته کړه چي موږ افغانستان او بلوچستان ته د برتانوي هند د برنډو يا دالانونو په سترګه ګورو. موږ به، د هر خارجي هيواد د يرغل په مقابل کي، له هغوی څخه، په خپل ټول قوت، دفاع وکړو. موږ به روسيي ته هيڅ وخت اجازه ورنه کړو چي د دغو سيمو په واکمنانو کي نفوذ وکړي Balfour" ص ۳۷-۳۸

لارډ ليټن له کونټ شووالوف سره تر دغي کتني وروسته سمدستي وليکل چي" د روسيي حکومت له اميرشيرعلي سره داسی مستقيم تماسونه ټينګ کړي دي چي هغه نه موږ ته اجازه راکړې او نه يې موږ حتی له وېري ورته پېشنهادولای سو؛ په داسي حال کي چي موږ هغه ته هر کال پيسي او وسلې ورکوو. د روسيي جنرال مخامخ وايي چي افغانستان بايد بې وسلو سي په داسي حال کي چي پخپله يې له اميرشيرعلي سره داسي تماسونه ټينګ کړي دي چي هر وخت يې زړه وغواړي له هغه سره ليده کاته کولای سي او د امير پر اطاعت باندي بشپړ باور لري. اينګليند په زغرده وايي چي هدف يې د افغانستان نيکمرغي او خپلواکي ده او د دغه هدف لپاره د هغه هيواد واکمن ته مالي مرستي ورکوي. خو بيا هم په افغانستان کي دونه نفوذ نه لري چي د هغه هيواد واکمن په دې قانع کړي چي په خپله خاوره کي د برتانيي استازو ته اجازه ورکړي او يا په خپله خاوره کي د برتانيي د افسرانو تېرېدل وزغمي. زه فکر نه کوم چي وضع تر دې هم مهمه او خطرناکه کېدلای سي" هغه کتاب ص ۳۹-۴۰

لارډ ليټن هند ته د رسېدلو څخه لږ وروسته د پېښور کمېشنر سرريچارډ پالک سره وکتل او هغه ته يې هغه ليک ورکړ چي بايد د وايسرا د ياور ميجرخانان خان په لاس د کابل امير ته واستول سي. په مکتوب کي راغلي وه چي لارډ ليټن د هند د وايسرا په حيث مقرر سوی دی، د امير او وليعهد عبدالله جان د روغتيا پوښتنه يې کړې وه او دا يې ورته ليکلي وه چي وايسرا په خيال کي لري چي ډېر ژر سرليويس پيلي د خاص استازي په توګه کابل ته ولېږي؛ له هغه سره به ډاکټر بيليو او ميجر سينټ جان هم ملګري وي او تاسي ته به شخصا يو مکتوب در

کړي چي په هغه کي به په هند کي زما د مقررى او د ملکي له خوا د هند د امپراطوري د لقب د غوره کولو اطلاع شامله وي. هغه کتاب ص ۵۳.

امیر ته په دغه وخت کي ریپوټ رسیدلی وو چي د انګریزانو یو پوځ د بولان په دره کي را تیرسوى او غواړي چي کندهار ونیسی. که څه هم چي امیر پخپله دا رپوټونه بې اساسه بللي ول مګر څرنګه چي انګریزانو په کویټه کي دایمي نمایندګي پرانیستلي او هغه ښار یې په ریښتیا هم اشغال کړی وو نو له امیر سره دا اندېښنه پیدا سوه چي د کوټي د ښار اشغال د کندهار او هرات د ښارونو د اشغال پیلامه ده. Bilgrami ص ۳۳۵

امیر شېرعلي خان د وایسرالارد لیټن سره د خبرو او هغه ته د افغانستان په باب د اطلاعاتو ورکولو لپاره په کابل کي د انګریزانو خپل استازی نواب عطامحمدخان سیملي ته واستاوه. نواب عطامحمدخان د امیر ټولي غوښتني او شکایتونه لارډ لیټن ته ورسول خو په هیڅ مورد کي یې د هغه قناعت حاصل نه کړ او د دې خبري اصلي علت دا وو چي لارډ لیټن له لومړي سره له دې نیت سره هند ته راغلی وو چي په هره توګه کېږي په امیر به دا مني چي په خپله خاوره کي، په تېره بیا، کندهار، هرات، بلخ او کابل کي د برتانیې انګریزي استازو ته د ټاکل کېدلو اجازه ورکړي. لارډ لیټن له دې څخه وروسته په زغرده له امیر څخه وغوښتل چي هغه غواړي د افغانستان په خاوره کي انګریزي استازي ولري او چي په هر صورت کېږي دا هدف باید تر سره سي.

ډوک آف ارګایل لیکي"لارد لیټن وروسته عطامحمدخان ته وویل چي امیر په دې خبري کي په غلطه دی چي وایي موږ تر هغه وخته پوري له چا سره مرسته نه کوو چي خپلي ګټي پکښي ونه وینو. که امیر نه غواړي چي موږ خوشاله وساتي نو هغه مرستي به چي له ده سره یې کوو د هغه دښمنانو ته ورکړو او هغوی به یې په ورین تندي ومني. ده وروسته عطامحمدخان ته وویل هره شیبه چي موږ په دې پوه سو چي افغانستان نور زموږ دوست او متحد هیواد نه دی موږ له روسیې سره تفاهم کوو او افغانستان به د مځکي له مخ څخه محو کړو. البته دا ډېره تهدیدونکي لهجه وه او وایسرا تر دې هم سخت کلمات استعمال کړل. هغه امیر ته اخطار ورکړ چي برتانیه کولای سي پر هغه باندي د اوسپني کړی را وګرځوي او یا یې لکه وچ لرګی میده میده کړي؛ او امیر د دوو اوسپنیزو لوښو په منځ کي یو وړوکی خاورین لوښی دی. تر دې بد لا بل هغه اعلان وو چي په هیڅ توګه توجیه کېدلای نه سي او هغه دا چي وایسرا تهدید وکړ چي که امیر زموږ سره سمدستي تفاهم ته رسېدل نه غواړي نو روسان زموږ سره د افغانستان پر سر تفاهم ته تیار دي". ص ۴۲۵ Duke

امیر د لارد لیټن د لیک په باب د سلا مشوري لپاره خپل خاص او نیژدې مقامات را وبلل. البته په سردارانو او مشرانو کي یوازي د هغه صدراعظم سیدنورمحمدشاه د سمي مشوري ورکولو توان او صلاحیت درلود او امیر ته یې وویل چي تر څو پوري د انګریزانو سره د تماس ټینګولو څخه پرهیز وسي تر هغه وخته پوري به روسان، د آمو د سیند پر هغه غاړه او په هند کي انګریزان د امیر د دوستی په ترلاسه کولو پسي ستړی وي. ده وویل چي هند ته په څوسفرونو کي د انګریزانو په مقاصدو ښه پوه سوی دی او خاطرات به یې هیڅکله هیر نه کړي. د لارډ لیټن لور میرمن بیټي بالفور لیکي " په دې کي هیڅ شک نسته چي په دې خبره کي د امیر د وزیر عقیده په صحیح توګه څرګنده سوې وه. هغه په ۱۸۷۳ کي هند ته د سفر په وخت کی د لارډ نارت بروک سره کتلي او سفر یې بې نتیجي پای ته رسېدلی وو. هغه کابل ته له ډېري بدي خاطرې سره ستون سوی وو او تل به یې ویل چي له روسانو او انګریزانو دواړو څخه وېره په کار ده، خو روسان تر انګریزانو لا خطرناک دي. هغه یو لایق

سړی وو، ډیرد نفوذ خاوند وو، د انګریزانو سر یې ډیره سخته دښمني درلوده او پر امیر باندي یې، چي هسې یې هم له انګریزانو څخه ښه زړه نه درلود، په دې برخه کې ډیر زیات تاثیر درلودBalfour" ص ۵۵-۵۶

لارد لیټن، له لومړي سره، افغانستان ته د ډیرو بدو نیتونو سره راغلی وو. هغه په ژوند کې د امیر شیرعلي خان سره لیدلي نه وه، او نه یې د هغه کوم خصمانه عمل لیدلی وو، مګر هغه یې د انګریزانو دښمن، د روسانو دوست او حتی وحشي باله. لارډ لیټن لارډ ګرین بروک ته په یوه لیک کې وایي چي " د امیر پالیسي هر وخت دا ده چي، تر څو په وس یې پوره وي، دوه لوی قدرتونه د یوه بل پر ضد استعمال کړي؛ او یوه ته هم په خپله خاوره کې د پښې د ایښودلو قدر امتیاز هم ورنه کړي. مګر زموږ په مقابل کې د هغه بېطرفي د ښه زړه نه ده او ښایي ډیر دوام هم ونه کړي. دی وایي ما بیخي ډیر کوښښ وکړ چي د کابل له امیر سره اړیکې بهتر کړم مګر ناکام سوم. افغانستان د تیرو شپږو اوو کالو په څیر پاته دی او هیڅ تغیر نه دی راغلی؛ زموږ پر مخ یې ټولي دروازې تړلي او له روسانو سره تل په تماس کې وي. موږ باید په دې پوه سو چي که چیري د روسیې او برتانیې ترمنځ کوم جنګ پېښیږي په هغه صورت کې به افغانستان زموږ ملګری نه وي. لارډ لیټن لیکي چي امیر شیرعلي یوازې وحشي نه دی بلکه د وحشي توب سره یو څه لیونتوب هم لري، ځکه یې فیصله آنې او عمل یې ناڅاپي وي. که څه هم چي روسان یې نه خوښیږي او پر هغوی باندي هم بې باوره دی، خو زموږ سره ډیره سخته شخصي دښمني لري. ده موږ هیڅ وخت په سیستان کې زموږ د حکمیت له امله نه یو بخښلي. په دې وروستیو دوولسو میاشتو کې یې ځان ښه په وسلو سمبال کړی دی او له روسانو سره تل په تماس کې وي. سره له هغه چي موږ د ده په برخه کې له احتیاط او پرا هیز څخه کار اخیستی دی مګر دی هر وخت وایي چي زموږ پالیسي دې ته مجبور کړی دی چي ځان په وسلو سمبال کړي. ده د روسیې او ترکیې د جنګ په پیل کې، د دې پر ځای چي د روسانو پر ضد یې جهاد اعلان کړی وای، زموږ پر ضد یې جهاد اعلان کړ او اوس هم وایي چي شرایط ورته برابر سي بیا به جهاد اعلانوي" هغه کتاب ص ۲۴۴-۲۴۵

په خپل زور او قوت مغرور لارد لیټن له لومړي سره، د امیر شیرعلي خان سره، د روغې جوړې خیال نه درلود او د پېښور د کمیشنر مرستیال کیوناري ته یې، په هند کې د خپل ماموریت په دریمه میاشت، ولیکل چي " زما په فکر له امیرشیرعلي سره زموږ د اړیکو لویه نیمګړتیا په دې کې ده چي زموږ په لهجه کې د دواړو خواوو دریځ او موقف سم نه دی څرګند سوی، چي هغه د ده کمزوري او زموږ طاقت دی. امیر چي زموږ نرم دریځ ته ګوري نو فکر کوي چي موږ ده ته، په سیاسي لحاظ، ډیره سخته اړتیا لرو او په دې حساب نو د روسانو لپاره ډیر مهم دی. ده طبعا کوښښ کړی دی چي خپل دوه زورور ګاونډیان د یوه بل پر ضد استعمال کړي. موږ ده ته په څو میاشتو یا حتی څو هفتو کې دا ښودلای سو چي دونه زور نه لري چي دا لوبه دې بریالی پای ته ورسوي. زه په دې باور یم چي موږ باید هیڅ وخت پرې نه ږدو چي افغانستان د کوم بل طاقت لاسته ولوېږي. مګر زموږ او د افغانستان د اوسني امیر ترمنځ یو څرګند توپیر موجود دی. موږ له شیرعلي پرته ګوزاره کولای سو مګر هغه زموږ له مرستي پرته پر مخ نه سي تللای" هغه کتاب ص ۱۶۲

دوک آف ارګایل لیکي چي" د لارډ لیټن په دې ادعا کې چي امیر غواړي خپل زورور ګاونډیان د یوه بل پر ضد استعمال کړي یوه ذره حقیقت نسته. دی وایي شیرعلي بېخي هوښیار سړی وو او په دې پوهیدی چي د دې دوو طاقتونو ترمنځ په جنګ کې له یوه سره هم د ده اتحاد چنداني ګټه نه رسوي. دا ټوله مفکوره د لارډ لیټن خپل

خیالات دي. په دې باب کره او زیات شواهد موجود دي چي لارډ لیټن او د هغه سلاکارانو یوازي د روسیې په باره کي فکر کاوه او په بل هیڅ شي کي یې ری نه واهه. ډوک آف ارګایل وایی له امیر او د هغه له مقاماتو سره دا اندېښنه وه چي د برتانیې تونده لهجه، تهدیدونکي ژبه او آمرانه کلمات د دې معنی لري چي دوی غواړي د افغانستان بشپړ واک په خپل لاس کي واخلي. دا شواهد دونه څرګند دي چي بالاخره لارډ لیټن خپل استازی نواب عطامحمدخان، چي څو کاله یې د څو پخوانیو وایسراګانو بشپړ اعتماد ترلاسه کړی وو، په دروغ ویلو تورنوي. دی وایی چي زموږ استازي خپل رپوټونه قصداً مبهم او بې مفهومه جوړ کړي ول. دا داسي یوه ادعاده چي له ټولو هغو لیکونو سره چي پارلمان ته رسېدلي دي په تضاد کي دي. ډوک آف ارګایل د خپل کتاب په حاشیه کي لیکي چي دا پر عطامحمدخان باندي یو عجیب غیر عادلانه تور دی؛ ځکه چي لارد لیټن د همدغه ماموریت په پای کي د اکتوبر پر دیارلسمه نېټه هغه ته یو ساعت، ځینځیر او لس زره روپۍ ورکړې او د هغه د خدماتو ستاینه یې وکړه"

Duke ص ۴۴۷-۴۴۹

لارډ لیټن، له دې څخه یوه میاشت وروسته، همدغه کیوناري ته، په یوه بل لیک کي د افغانستان په باب خپل بد استعماري نیت څرګند کړ. ده هغه ته ولیکل چي " د کابل له امیر سره زموږ اړیکي د دې پر ځای چي زموږ امنیت تامین کړي زموږ د پرله پسي اندېښني سبب دی. دا په هیڅ توګه زموږ په ګټه نه ده چي په خپل سرحد کي د داسی یوه قوت د استحکام لپاره کار وکړو چي د هغه دوستي زموږ د امنیت لپاره هیڅ ګټه نه کوي، او دښمني ته یې پرته له جنګه په بله توګه جواب نه سو ورکولای، چي په هغه کي هم برې له ستونزو خالي نه دی. نو زه فکر کوم چي د دې پر ځای چي د افغانستان د قوي کولو لپاره کار وکړو بهتره دا ده چي د هغه د پاشل کېدلو او کمزوري کولو لپاره اقدامات وکړو. لارډ لیټن وروسته لیکي چي شېرعلي زموږ له لاسه وتلی دی او موږ باید د خپل دریځ د قوي کولو لپاره، په هیڅ توګه، د هغه پروا ونه کړو... موږ هیڅ وخت د افغانانو رضاییت نه سو ترلاسه کولای؛ ځکه چي د هغوی غوښتني زموږ له ګټو سره سر نه خوري. له دوی سره چي هر څومره مرسته وسي مننه به ونه کړي. نو دوی ته باید قوت وښودل سي. هر څومره چي دوی ته صدمه ورسول سي او هر څومره چي زیات خوږ سي په هغه اندازه دوی تر اغېزې لاندي راوستل کېږي" هغه کتاب ص ص ۱۶۵-۱۶۶

نواب عطامحمدخان امیرشېرعلی خان ته د لارډ لیټن تهدیدونکي کلمات، لکه څرنګه چي ورته ویل سوي وه کټ مټ هغسي، ورسول. امیر شېرعلی خان بالاخره مجبور سو چي خپل صدراعظم نورمحمدشاه ، د ۱۸۷۶ کال د ډسامبر په وروستیو شپو ورځو کي، د سرلیویس پیلي سره د خبرو لپاره، پېښور ته واستوي. دا مذاکرات د ۱۸۷۷ کال د جنوري د میاشتي په پای کي پیل سول. د برتانیې استازي لیویس پیلي غوښتل د لومړي سره داسي وبرېښوي چي ګواکي د دې خبرو غوښتنه امیر شېرعلی خان کړې ده. په دې صورت کي به نو لیویس پیلي خپل شرایط تحمیلولای؛ مګر نورمحمدشاه هوښار سړی وو او د سرلیویس پیلي لپاره له لومړۍ ورځي معلومه سوه چي د هغه غولول او د خپل هیواد تر ګټو تېرول ممکن نه دي. ډوک اف ارګایل لیکي" د نورمحمدشاه د لیاقت او د شخصیت له درونډوالي څخه هیڅ انکار نه سي کېدلای. هغه د مذاکراتو له پیل څخه، د ډېري سختي مرګانی ناروغی سره سره، چي کرۍ ورځ به له دردونو څخه کړېدی، د خپل دریځ، د امیر له نظر او د افغانستان له خپلواکی څخه دفاع وکړه. سرلیویس پیلي، د فبروري پر دریمه، د کنفرانس په لومړنۍ غیر رسمي غونډه کي،

نورمحمدشاه ته وويل چي دا په امير اړه لري چي خپل استازی لکه څرنګه چي دی يې غواړي هغه په خوشالي ور ستنوي کنه. نورمحمدشاه په جواب کي ورته وويل چي نه! دا په تاسي اړه لري. او وروسته يې خپله خبره سمه کړه او وې ويل چي په حقيقت کي دا نه په تاسي او نه په امير اړه لري بلکه دا په عدالت اړه لري. د لومړۍ غونډي په پای کي يې ليويس پيلي ته وويل چي ستاسي حکومت ډير ستر او غښتلی دی، او زموږ حکومت ډير کمزوری دی. موږ له ډيره وخته ستاسي سره دوستانه اړيکي لرو او امير ستاسي لمني ته لاس اچولی دی؛ تر څو چي لاس يې غوځ نه سي ستاسي لمنه به خوشي نه کړي. مګر کله چي يې د امير د استازي په حيث خبري کولې نو دونه په قوت ږغېدی چي خپل حريف يې کونج ته کړ. د فبروري پر پنځمه يې د سر ليويس پيلي څخه پوښتنه وکړه چي که اوسنی وايسرا زموږ سره کومه موافقه وکړي او تر ده وروسته بل وايسرا ووايي چي دا موافقتنامه نه مني نو بيا به څه کېږي؟ سرليويس پيلي غوښتل چي دې پوښتني ته مبهم جواب ورکړي خو نورمحمدشاه ورته وويل چي ما ته د نه او هو جواب راکړه. نورمحمدشاه وروسته بيا ورته وويل چي آيا د سرجان لارنس او د مرحوم امير له وخت څخه بيا د لارډ نارت بروک او اوسني امير تر وخته پوري ټولي لاسليک سوي موافقتنامي فسخ سوي دي. سرليويس پيلي ورته وويل چي هغه د موافقتنامو د فسخ کولو صلاحيت نه لري، بلکه له موجودو موافقتنامو سره د ځينو موادو د زياتولو پيشنهاد کوي. نورمحمدشاه ورته وويل داسي به يې فرض کړو چي موږ له لارډ ليټن سره موافقتنامه لاسليک کړه او شل کاله وروسته يوه بل وايسرا وويل چي دا نه مني نو زموږ تکليف به څه وي. ليويس پيلي ورته وويل چي دا خو امير نارضاييت ښکاره کړی دی او موږ مجبور يو چي له هغه سره پر سويو موافقو باندي تجديد نظر وکړو. سيد نورمحمدشاه ورته وويل امير ځکه ناخوښي او اعتراض ښودلی دی چي د زړو موافقو څخه سرغړونه سوې ده" هغه کتاب ص ص ۴۵۷-۴۵۹

څرنګه چي وايسرا د نورمحمدشاه په مقابل کي هيڅ ډول منطق نه درلودل نو يې خپل استازي ليويس پيلي ته هدايت ورکړ چي امير ته ووايی چي که هغه د دواړو حکومتونو ترمنځ د نوي تړون د لاسليک کېدلو سره موافقه نه کوي نو هغه ته بايد وويل سي چي دواړه حکومتونه خپلو پخوانيو دريځونو ته ګرځي. د دې لپاره چي د پخوانيو دريځونو يا شرايطو په باب د امير له ذهن څخه هر ډول غلط فهمي ليری سي، وايسرا ليويس پيلي ته هدايت ورکړ چي امير ته ووايی چي د هغه تړون په اساس چي له مرحوم امير سره لاسليک سوی وو، افغانستان د برتانيي د دوستانو دوست او د دښمنانو دښمن وو؛ په داسي حال کي چي په مقابل کي برتانيي دغه راز دوه اړخيز مسوليت نه دی درلودلی. د بلي خوا څرنګه چي اميرخپل مسوليتونه نه دي پوره کړي او د برتانيي په مقابل کي يې خصمانه دريځ غوره کړی دی، د برتانيي استازي يې په خپله خاوره کي نه دي منلي، د برتانيي د مرستو مننه يې نه ده کړې، په خپله خاوره کي يې د برتانيي افسرانو ته د تيريدلو اجازه نه ده ورکړې؛ پر خپلو ګاونډيانو باندي يې د يرغل کولو نيت درلودلی دی او بالاخره يې د برتانيي پر ضد د جهاد اعلان هم کړی دی. د دې لومړيو تورونو معنی يوازي دا وه چي امير د لارډ مايو سره پر کړو تړونونو باندي ټينګ ولاړ وو، نور تورونه يې تشي آوازې وې او دا چي امير د برتانيي په مقابل کي جهاد اعلان کړی وو، د دې علت پخپله د امير په مقابل کي د لارډ ليټن تشدد وو، چي امير يې د جهاد اعلانولو ته مجبور کړی وو. هغه کتاب ص ۴۷۰-۴۷۱

لارډ ليټن د پېښور په مذاکراتو کي له وچي سرزوری څخه کار واخيست او د نورمحمدشاه څخه يې وغوښتل چي په افغانستان کي د برتانيي استازو د ټاکلو موضوع ته د نه او هو جواب ورکړي بله هيڅ لاره نسته. سيد نور

محمدشاه تر سخت فشار لاندي وو او په يوه مياشت کي يي روغتيايی حالت ډير سخت خراب سو او بالاخره د مارچ پر شپږويشتمه وفات سو. امير يا د خپل صدراعظم د وفات د خبر د اورېدلو او يا د هغه د سختي ناروغی په شپو ورځو کي د پېښور د مذاکراتو د پر مخ بېولو لپاره بل استازی ټاکلی وو او وايسرا ته رپوټ ورکړه سوی وو چي دغه استازي ته واک ورکړه سوی دی چي د وايسرا ټولي غوښتني ومني. لارډ ليټن پخپله وايي چي د مارچ له ديرشمي څخه مخکي، چي سرليويس پيلي ته يي د مذاکراتو د بندولو امر وکړ، په دې موضوع خبر وو.
هغه کتاب ص ۴۸۰

لمړی برخه:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/B_jahani_de_angrezi_estemar_rosi_aw۱.pdf